# زېرى

پنځلس ورځنۍ جريده

د تأسيس کال ۱۳۱۶ هجري شمسي

چهارشنبه ■ ۱۱ – ۱۲ مه ګڼه ■ درېیمه دوره ■ پرله پسې ۲۱۱ - ۲۱۲ مه ګڼه ■ ۱۳۹۳ لمریز کال د وږي ۲۶ مه ■ ۱۴۳۵ هـ ق کال د ذوالقعدې ۲۲ مه ■ ۲۰۱۴ زېږدیز کال د سپتمبر ۱۷ مه


**افغان ته!**

کاشکې مړ وی چې مې هېڅ نه وی لیدلی
دا دستا په مرګ حساب ژوندون افغانه
نه شرمېږې ټول قومونه سره یو شول
ته شلېدلې ټنې پروت یې پرېشانه

"ارواښاد محمد موسی شفیق"

## د پښتو د نوي ادب باني راحت زاخېلی

✎ استاد حبيب الله رفيع

لکه څوک د بل په سا نه ژوندی کېږي
داسې قام نه دی د بل په دم تازه
که د تللي کاروان پل درنه غلط وي
خدای د پاره واخله خپل قدم تازه

دا د یوه شاعر غږ دی، د یوه داسې شاعر غږ چې هم یې په خپله د ژوند په ورشو کې تازه قدمونه اخیستي او هم یې نورو ته توصیه کړې او هڅولي یې دي، چې تازه قدمونه واخلي، آن که د تللي کاروان پل ترې غلط شوی هم وي، بې ارادې نه شي او جرئتمندانه ګامونه واخلي.

هو! دا د شاعر غږ دی، د داسې شاعر غږ چې تش شاعر نه و، بلکې لوی لیکوال و، لوی محقق و، لوی مترجم و، لوی اجتماعي نقاد و، لوی ژورنالست و او مبتکر ادیب و.

خدمتونه وکړل، لومړی له دوی نه د راپاتې اثارو نومونه اخلم، چې څومره خوره وره ساحه لري او بیا د ادب په ورشو کې د دوی څو تازه او نوي قدمونه څېړم:

۱ - لغات افغاني، قاموس.
۲ - قواعد پښتو، ګرامر.
۳ - صرف میر، ګرامر.
۴ - تحریر کافیه، ګرامر.
۵ - سوانح انور بېګ، پښتو نظم.
٦ - تاریخ افغانستان، تاریخ بغداد.



۱۲ - سیف الملوک، فولکلوري کیسه، پښتو نظم.
۱۳ - ستارهٔ زمین، اردو ناول.
۱۴ - نتیجهٔ عشق یا ناول د ماه رخې، پښتو ناول.
۱۵ - پښتو افسانې، د راحت پښتو لنډې کیسې.
۱٦ - داغونه، شعري مجموعه.
۱۷ - داغستان، شعري مجموعه.
۱۸ - خورې ورې، ادبي ټوټې.

د افغان او ستړي مه شئ جریدې یې هم چلولې او ښایي نور آثار هم ولري.

زه اوس دا اوږد لست رالنډوم او یوازې دوو هغو تازه قدمونو ته تم کېږم، چې ده په پښتو ادب کې ایښي دي.

لومړی – لنډې کیسې یا افسانې:

له کومې ورځې نه چې انسان ژوند پیل کړی، له هماغې ورځې نه یې کیسې هم جوړې کړې او د ژوند جالبې پېښې یې د کیسو په بڼه له یوه نه بل ته لېږدولې دي، د خط تر پیدا ایښت را وروسته، د انسان دا کیسې په څه ناڅه ډول خوندي شوې او راپاتې شوې دي.

فولکلوري کیسې د بشر ډېرې زړې کیسې دي، چې د دوی زاړه اندونه، تحلیلونه او نتیجه ګیرۍ موږ ته رارسوي او د بشري راشو درشو زړې لارې راښیي، چې اوس هم د نړۍ په زیاتو ملتونو کې خوندي دي.

هو! ننني لنډه کیسه لومړی په لوېدیځ کې دود شوه او هم هلته د دې کیسې هنري او ادبي اډانه وټاکل شوه او فني چوکاټ ورته جوړ شو، خو د دې معنا دا نه ده، چې په ختیځ کې کیسه نه وه، بلکې په شرق کې هم کیسه ډېره زړه او لرغونې ده، پنچاتنترا یا پنچاکیانه، چې د آریایي کیسو مجموعه ده، تر دوو زرو کلونو زیات عمر لري او په دې موده کې یې د ژباړو له لارې تر شرقه او غربه پورې ټوله دنیا تسخیر کړې ده او لومړنۍ پښتو ژباړه یې هم، چې افضل خان خټک کړې، تر درې سوو کلونو زیات عمر لري، چې وروسته یې نورې ژباړې هم

درېیم مخ ⬅

## لنډۍ د محمد اکبر معتمد شینواري له نظره

⬟ څېړنوه علي محمد منګل

زه لوی ادبي شخصیت اروانباد راحت الله زاخېلي بنیم، چې سل کاله وړاندې د پښتونخوا پر ځمکه زېږېدلی و او پنځوس کاله وړاندې یې له دې فاني نړۍ څخه سترګې پټې کړې.

راحت صاحب د پښتو د نوي او زاړه ادب کړۍ سره ونښلولې او زاړه او نوي ادب دواړو ته یې

٧ - خزان د افغان، پښتو نظم.
٨ - رسالهٔ نبض، فارسي رساله.
٩ - فالنامه، پښتو نظم.
١٠ - ګلستان سعدي، پښتو ژباړه.
١١ - قواعد خوشخطي، فارسي نظم، د خط لارښود.

# د فونیټیک او فونولوژۍ ړندې

■ شېرنوال مولا جان تڼیوال

په ډېرو آثارو کې د فونولوژۍ او فونیټیک د پېژندنې په اړه داسې څه ترسترګو کېږي، چې په اسانۍ سره یې د کار او کړنو سیمې نه شي سره جدا کېدای او د سړي زړه ته دا لوېږي، چې دواړه اصطلاحات یوه دنده سرته رسوي او هغه دنده د یوې ژبې د آوازونو څېړنه ده.

که رښتیا ووایم، زه هم تر ډېر وخت وروسته په دې وپوهېدمه، چې دا اصطلاحات باید مترادف ونه کارول شي، ځکه چې د دوی معناوې یا مفهوم یو شی نه دی او په منځ کې یې توپیر شته، خو د مفاهیمو ترمنځ توپیرونه یو ځل، په یوه وار او په اسانۍ سره نه پېژندل کېږي، په تېره بیا چې په کړنو کې نږدېوالی هم شتون ولري.

خو له کله نه چې پوهانو په دې برخه کې اوږدې څېړنې وکړې، نو دا ترې جوته شوه، چې فونولوژي او فونیټیک د دندې په لحاظ سره بېل دي. د دې له پاره چې دا خبره څرګنده شي، اړینه ده چې د دواړو نومونو تعریفونه وکړو.

پوهان وايي، چې فونولوژي د ژبپوهنې یوه څانګه ده، چې د ژبې ارزښتناک اوازونه مطالعه کوي. یا: فونولوژي د ګرامر هغه برخه ده، چې د یوې ژبې ارزښتناک غږونه تر څېړنې لاندې نیسي. له ارزښتناکو آوازونو څخه مطلب د یوې ژبې هغه آوازونه دي، چې د لومړنیو ژبنیو توکو (لغاتو) په جوړښت او تشکیل کې اساسي ونډه لري، یعنې که آوازونه سره ترکیب او یوځای نه شي، لغتونه نه شي رامنځ ته کېدای.

د فونیټیک په اړه زما په فکر، تر ټولو روښانه او رښه څرګندونه هغه ده، چې مجاور احمد زیار په خپل اثر "پښتو پښویه" کې کړې ده. د نوموړي دغه اثر په ١٣٥٧ المریز کال د کابل پوهنتون د ادب پوهنځي له خوا په ټایپي شکل چمتو شوی دی. ده ویلي دي، چې فونیټیک یا سپڼپوهه د یوې ژبې ټول آوازونه که هغه ژبني

درېیم مخ

سرمحقق محمد اکبر معتمد، د پښتو د معاصر ادب په ځلانده دوران کې، د نورو پښتو ادبپوهانو، نومیالیو عالمانو او څېړونکو په شان پښتو ادب ته له شک پرته ډېر خدمت کړی دی. نوموړي له روسي ژبې څخه پښتو ته ډېر ادبي موضوعات، چې د وخت د شوروي او روسي ادبپوهانو له خوا د پښتو ادب په برخه کې په روسي ژبه لیکل شوي، په ډېره روانه، ساده او سلیسه ژبه د پښتو ژبې د غنامندۍ له پاره ترجمه کړي دي. ده د ترجمې په برخه کې ډېر لوی او فوق العاده استعداد درلود، چې له ده څخه ډېر ادبي بېل بېل موضوعات نن پښتو ادب ته په میراث یې راپاتې دي، د ده نوم پرې ژوندی او جاوېدان دی، ځکه چې د پښتو ادب د خدمت په لاره کې یې د قدرور خدمتونه کړي دي.

زه نور په دغه اړه څه نه وایم، د پښتو ملي ادبیاتو په برخه کې، دلته د ده هغه درانه نظر او پښتو لنډیو سره د مینې یادونې ته ځیر کېږم،

چې د دغو ولسي ادبي دُر دانو په برخه کې یې په استادانه توګه بیان کړی دی. د ده د هغه قلمي لنډ یادښت له مخې، چې ما ته یې په مینه راسپارلی و او بیا د "پښتو لنډۍ" اثر کې هم په زیاته کچه چاپ شوی، څو کلمې په ټوله ادبي مینه سره په پوره رنګینۍ درته وړاندې کوو....

"لنډۍ د هغو سندرو په شمېر کې راځي، چې خورا زیات لرغونتوب لري، ځینې محققین لنډۍ د شکل او محتوا له نظره پخوانیو ویدي سرودونو ته ورته بولي او وايي، چې د پښتنې سندرو دغه بڼه او شکل د آریایي قبیلو د سپېڅلو او ساده اشعارو زېږنده ده، دغه اټکل له واقعیت نه دومره لرې هم نه برېښي، ځکه د ژبو د تاریخي څېړنو په استناد، ویدي سرودونو، چې د پخوانیو آریایي قبیلو حماسي، ملي او مذهبي سندرې دي، ورو ورو خپل د تکامل مراحل طی کړي او بیا یې په (اوستا) کې جامع او متکامل شکل غوره کړی دی، البته دا چې لنډۍ یا لنډیو ته ورته اشعار په اوستا کې راغلي دي، ډېر پلویان لري.

منګله! د لنډیو کومې بېلګې، چې موږ ته رارسېدلې دي، له هغو نه د پښتنو قهرمانانه جګړو، چې له استعمار سره یې کړې دي، ژوندۍ تابلوګانې جوړېږي. د کابل د میوند په جاده کې یو لوړ څلی ښکاري، چې د هغو کسانو په یاد جوړ شوی دی، چې په ١٨٨٠ز کال په میوند کې له انګرېزانو سره په جګړه کې شهیدان شوي دي، د دغه ستر څلي له بېخ سره یوه د مرمرو ډبرینه تخته نصب شوې وه، چې دغه د پښتو لنډۍ ورباندې لیکل شوې او کېندل شوې وه:

کـه پـه میونـد کـې شـهید نـه شـوې
خـدایږو لالیـه بـې ننګـۍ تـه دې سـاتینه

د فولکلورپېستانو په اند، په سندرو کې لنډۍ او په نثرونو کې نکل، د ملي آثارو تر ټولو زیات مشهور ډولونه دي.

لنډۍ عادتاً دوه کرښې لري؛ لومړۍ کرښه یې لنډه وي او نهه هجاوې لري، دوهمه کرښه یې اوږده او دیارلس هجاوې لري. د فولکلوري آثارو دغه نوعه اختصار، ظرافت، د لفظ او فورم نفاست او د اصلي مفکورې د بیان او ادا سم قدرت لري.

پښتانه زلمیان او پېغلې، چې د مینې او عشق لومړی څرک حس کاندي، نو د مینې تپاک لومړی ځل په لنډیو ماتوي او خپل ځان په ډېر اخلاص، دغو ولسي سندرو ته تسلیموي. یوه پېغله خپله مینه او لومړی ملاقات داسې تصویروي:

زمـا لالـی سـنګ پـارس دی
کـه ور پـه غـاړه شـم د سـرو زرو بـه شـمه

منګله وروره! لنډۍ د ولس هنر دی، دا هنر داسې مثال لري، لکه بله ډېوه، چې ځای یې معلوم نه وي، چې چېرې ده او وخت یې معلوم نه وي، چې له کله راهیسې بله شوې ده. خو پښتانه نسلونه یې په پېړیو پېړیو یو بل ته سپاري.

لنډۍ د ولسونو د ذهنیت، کلتور او تمدن هینداره او د هغوی د ذهني او خارجي شرایطو، تصوراتو، اجتماعي روابطو او هر ډول ګډو خصوصیاتو انعکاس دی.

لنډۍ د ولس خورا لویه شتمني او پانګه ده، د بشري افکارو او تجربو زېرمه، چې په زرګونو کلونو کې د لنډیو په ذریعه راټوله شوې، له نېکه مرغه په قالبي او خوږو الفاظو کې خوندي

درېیم مخ

ادبي بحثونه:

## په لوېدیځه نړۍ کې د ادبپوهنې د وېش مسئله

✎ څېړنپوه سید محی الدین هاشمي

ادبپوهنه د لوېدیځې نړۍ د ادبیاتو په ساحه کې داسې څانګې لري، چې د هغو پېژندنه، وېش، مقولې، مفاهیم او موضوعګانې یې زموږ له "ادبي علومو" سره ډېر لږ سمون خوري. د لوېدیځو ادبپوهانو او څېړونکو هم د مخه زموږ د څېړونکو په شان د ادبپوهنې په پېژندلو، وېشلو او شرحه کولو کې واحد نظر نه دی ښکاره کړی، خو اوس د لوېدیځ معاصر ادبپوهان د ادبپوهنې د اساسي څانګو او فرعي څانګو د وېش په اړه لږ و ډېر د نظر یووالی لري او هغه په اوسنیو ادبي څېړنو کې د یوه اصل په توګه منل شوی دی.

د "ادبي مسئلې" لیکوال لیکي:

"د لوېدیځې نړۍ یو نامتو معاصر ادبپوه رنه ویلیک او د ده ملګري استن وارن، په خپل کتاب د ادب تیوري (Theory of Literature) کې د ادبپوهنې پر څانګو مفصله رڼا اچولې او درې مهمې څانګې یې د ادبي تیوري، ادبي کره کتنې او ادبي تاریخ په عناوینو ورته ټاکلې دي."(١)

دلته یوه بله خبره هم د یادونې وړ ده، چې هغه د ادبي څېړنو له پاره د یوې مناسبې اصطلاح موندل دي. رنه ویلیک په دې اړه وايي:

"په انګلیسي کې د ادبي څېړنو له پاره دوه اصطلاح ګانې، چې یوه (Literary Scholarship) او بله (Philology) ده، کارول کېږي. البته په دې برخه کې یوه بله اصطلاح (Literary studies) په نامه هم شته، چې رنه ویلیک هغه نه ده یاده کړې. نوموړی وايي چې لومړۍ اصطلاح اوس نه استعمالېږي، ځکه چې له یوې خوا یې ادبي کره کتنه نه احتوا کوله او له بله پلوه ادبپوهنې ته مؤکده علمي بڼه ورکوي. خو د فلالوجي (Philology) اصطلاح التباس او غلط فهمي منځ ته راولي."(٢)

کاندید اکاډیمسین محمد صدیق روهي د پښتو ادبیاتو تاریخ معاصره دوره کې په لوېدیځ کې د ادبپوهنې د وېش په اړه لیکي:

"ادبپوهنې ته ادبي څېړنې هم وايي. سربېره پردې په خپله ادبیات هم د ادبپوهنې په مفهوم کارول کېږي، وايي چې ادبیات دوې څانګې لري: تخلیقي ادبیات او تحقیقي ادبیات؛ تخلیقي هنري (بدیعي) ادبیات هغو ادبي آثارو ته ویل کېږي، لکه: داستان، شعر، ډرامه، طنز، ادبي ټوټه، تکل او داسې نور ژانرونه؛ تحقیقي ادبیات د ادبي آثارو د

دوهم مخ

د خورا پېرزو کوونکي، لوروونکي الله په نامه

# سرلیکنه

## د ماشومانو ادبیات

ماشومتوب د ژوند هغه پړاو دی، چې له زېږونه پیل او ځوانۍ ته تر رسېدو پورې غځېږي. دا پړاو خپل ځانګړي خصوصیات لري، چې د ماشوم له غتېدو سره وده مومي او دا وده بېلابېل اړخونه لري. د ژوند همدغه مرحله خپل ځانګړي ادبیات هم لري.

د ادبپوهانو په وینا، هر هغه لیکنه چې د ماشومانو له عمر، ذوق او سویې سره برابره وي او د دوی د معلوماتو زېرمه ورسره بډایه شي، د کوچنیانو ادبیات بلل کېږي. د ادب دا صنف او ډول هسې خو ډېر معمولي شان ښکاري او د ماشومانو د هیلو او اړتیاوو ښکارندوی دی، خو په حقیقت کې د ژوند عام کوایف بیانوي، د ټولنې د دودونو او رسمونو په زړه پورې انځورونه لري او له دې وراخوا، دا د قومونو او انساني نسل د تمدن او لوړاوي بنسټ دی.

دې ډول ادبیاتو ته لومړی په لوېدیځه نړۍ کې هغه مهال پام واوښت، چې د ژوند دې پړاو ارزښت پیدا کړ. تر اتلسمې زېږدیزې پېړۍ پورې د ماشوم په اړه پوهاوی ډېر کمزوری او آن له نشت سره برابر و، خو له همدې مهال را وروسته د ماشومانو د ادبیاتو په برخه کې ګټور او اغېزمن ګامونه پورته شول؛ د ماشومانو له پاره ځانګړي کتابونه ولیکل او وژباړل شول.

کله چې په نولسمه پېړۍ کې نړۍ د ماشومانو د ښوونې او روزنې برخې ته قایله شوه او هغه یې مسلم حق وبلل شو، نو د همدې ډګر پوهانو د ماشومانو ژوند ته لا ډېر پام وکړ. شلمه پېړۍ بیا په ټولنه کې ماشوم د یوه مهم غړي په توګه شاهده وه او له دې سره د ماشومانو ادبیات لا نور وغوړېدل. دا هغه وخت و، چې د ادبیاتو دغې څانګې نورې نړۍ ته هم خپلې ریښې غځولې وې او د ماشومانو له پاره په هره برخه کې د روزنیزو آثارو پر لیکلو لاس پورې شوی و، چې تر ننه پورې دا لړۍ روانه ده.

زموږ په هېواد کې په سیستماتیکه بڼه د ماشوم د ادبیاتو پیل په شلمه پېړۍ کې د "سراج الاخبار" د جریدې په چوکاټ کې د "سراج الاطفال" په

# زکام

طنز:

✷ ژباړن: څېړندوی محمدآصف احمدزی

دغه پېښه پرون د مازیګر په شپږو بجو رامنځ ته شوه. زه له دفتره د کور خواته لاړم، په زینو کې مې سپین سرې ښځې لیدې، چې ښکته پورته کېدې. دې ښځو ټولو تورې جامې پر تن وې. زه حیران شوم. نه پوهېدم څه پېښ شوي دي. فکر مې وکړ چې یا څوک زېږېدلی او یا څوک مړ شوی دی، ځکه له دې پرته سپین سرې ښځې نه راټولېږي. زه خپل کور ته ننوتم، مېرمنې مې له مقدمې پرته راته وویل:

ګاونډی پیساروف مو مړ شو. نن دوه بجې ومړ.

زه غمجمن شوم. دغه کس له موږ یو پوړ پورته ژوند کاوه. لاس و مخ مې ومینځه او پورته منزل ته د مړي کور ته ورننوتم. په کوټه کې د پښو اېښودو ځای نه و، ما د زړو ښځو له سره پورته تابوت ته، چې د کوټې په کونج کې و، نظر واچاوه. پیساروف په خرپیلې ږېرې او الوتي رنګ په تابوت کې ویده پروت و. توره دریشي یې پر تن وه. هماغه دریشي چې د خپل واده په شپه یې اغوستې وه. زه د هغه مېرمنې ته ورنږدې شوم او په تسلي ورکولو مې پیل وکړ، بیا مې ترې وپوښتل:

هغه څنګه ومړ؟ څه تکلیف یې درلود؟

- زکام شوی و.
- عجیبه ده. هوا خو هومره سړه نه ده. څنګه هغه زکام شو؟

د پیساروف مېرمنې له اوښکو تویولو پرته ځواب راکړ:

- په رښتیا هم ژمی هومره سوړ نه دی. خو له بده مرغه هغه زیات آمرین لرل او په خپله هم مؤدب سړی و.

پوه نه شوم، چې د پیساروف زکام کېدل، د زیاترو آمرینو لرل او همداراز د هغه ښه سړیتوب سره څه اړیکه لري.

مېرمنې یې راته روښانه کړه:

- دغسې یې کله د ده آمر او کله د هغه بل آمر پر وړاندې تعظیم وکړ او خپله خولۍ یې له سره پورته کړله او په پایله کې... پایله کې... د دې پر ځای چې ترفیع وکړي، ناروغه شو.. او مړ شو.

په دې وخت کې د ښځې اوښکې تم نه شوې. ما یو ځل بیا د مړي څېرې ته وکتل او له هغه ځایه ووتم.

## په لوېدیځه نړۍ کې...

ماهیت، منشأ او تکامل او څرنګوالي په باره کې څېړنې کوي. همدغو تحقیقي ادبیاتو ته ادبپوهنه یا ادبي څېړنې ویل کېږي. ادبپوهنه په درېیو سترو څانګو وېشل شوې ده: ادبي تیوري، ادبي کره کتنه او ادبي تاریخ."(۳).

د اوسنیو ادبي څېړنو په پایله کې جوته شوې، چې ادبپوهنه په یو شمېر اصلي او فرعي څانګو وېشل کېږي، چې موږ دلته اصلي او فرعي څانګې تر ځانګړو سرلیکونو لاندې په لنډیز سره در پېژنو:

**لومړی – د ادبپوهنې اصلي څانګې:**

ادبپوهان د ادبپوهنې درې اصلي څانګې را پېژني:

قومونو او توکمونو د اړیکو او مناسباتو په اړه څېړنې دي.

۴ د ادبیاتو تاریخ: له هغو څېړنو او مطالعاتو څخه عبارت دي، چې د ځانګړو قوانینو پر بنسټ د یوې ژبې یا ټولنې د ادبیاتو د رامنځ ته کېدو او پرمختیایي بهیر په اړه ترسره کېږي.

۵ ادبي فنون: له بدیع، بیان، عروضو، قافیې او معاني څخه عبارت دی، چې په ځانګړې توګه عربي ژبه او ادب کې او بیا د هغې په پیروۍ په فارسي او پښتو ژبو او ادبیاتو کې تر څېړنې لاندې نیول کېږي. (۵)

په پورته وېش کې "ادبي فنون" د ادبپوهنې د اصلي څانګې په توګه بلل شوي، خو په زیاترو ادبي څېړنو کې بیا ادبي فنون د ادبپوهنې د یوې سترې او فرعي څانګه بلل شوې، خو اوسني زیاتره ادبپوهان سبک پېژندنه یا پوهنه د ابپوهنې په اصلي څانګې (ادبي تیوري) پورې اړوند ښاخ بولي او د ادبپوهنې فرعي څانګه یې نه ګڼي.

دوکتور اسدالله حبیب د ادبپوهنې فرعي څانګې داسې پېژني:

"ادبپوهنه پر اصلي څانګو سربېره ځینې فرعي څانګې هم لري، چې هغه د ادبپوهنې د تاریخ لیکنه، متن پوهنه او کتاب پېژندنه ده.

الف: د ادبپوهنې د تاریخ لیکل موږ د ادبپوهنې د هرې اصلي څانګې له تاریخي ودې او پرمختیا سره آشنا کوي او د هرې څانګې له سترو لاسته راوړنو څخه په استفاده د بریالیو څېړنو د ترسره کولو لارې چارې برابروي.

نامه د کوچنیانو له پاره د یوې برخې ځانګړي کول وو. نو ویلی شو، چې په افغانستان کې په شعوري ډول د ماشومانو د ادبیاتو له پاره کار له همدغې جریدې راپیل‌یږي. له دې وروسته ځینو نورو خپرونو هم په دې برخه کې لیکنې خپرولې، چې دغه لړۍ تر ننورځې پورې روانه ده او د ماشومانو د ادبیاتو له پاره خورې ورې هڅې جریان لري، خو په کار ده، چې دغه هڅې لا ډېرې شي، سیستماتیکې او منظمې شي، له علمي او څېړنیزو اصولو سره برابرې او کیفیت یې لوړ شي، ځکه د ماشوم ادب ته پاملرنه په حقیقت کې د هېواد د ادبیاتو راتلونکي ته پاملرنه ده.

د دې له پاره، چې په پښتو ژبه کې د ماشومانو د ادبیاتو برخه بډایه او چارې یې لا ګړندۍ شي، د نورو اړوندو دولتي او غیر دولتي ادارو ترځنګ لازمه برېښي، چې د افغانستان د علومو اکاډمۍ د ژبو او ادبیاتو په مرکز کې د ماشومانو د ادبیاتو د څېړنې په موخه یوه څانګه جوړه شي او په کې د دې ډګر اوسني او راتلونکي څېړونکي او علاقمندان، د دې څانګې هراړخیزې مطالعې او څېړنې ته ملا وتړي، د هغوی له پاره آسانه، وړ، له وخت او ژبې سره مناسب کتابونه ولیکي.

له نېکه مرغه، پښتو ژبه د ماشومانو له پاره د ولسي ادبیاتو بډایه زېرمه لري، چې لا تراوسه بېخي سالمه او په ځای پرته او ژبه یې خالصه او کلیواله ده، خو راټولولو ته یې ډېر پام نه دی شوی. په کار ده، چې د ماشومانو فولکلوري ادب او شفاهي سندرې راټولې او خوندي شي.

دغه راز د هغوی له پاره د کیسو، ډرامو او نورو نثري ژانرونو کې د هغوی د سالمې روزنې په موخه آثار ولیکل او وژباړل شي.

له دې سربېره، د ماشومانو د ادبیاتو لیکلې برخې ته هم کافي پاملرنه په کار ده، د ماشوم د ادبیاتو تیورۍ په اړه پراخ کار ته اړتیا لیدل کېږي، نو هیله ده چې دغو ټولو برخو ته په راتلونکي کې پام واړول شي.

دغه راز اړینه ده، د ماشومانو له پاره، چې د راتلونکي مشران به وي، په مورنۍ ژبه د زده کړې آسانتیاوې رامنځ ته شي، ځانګړي کتابتونونه ورته جوړ شي، ځانګړې مجلې ولري، په تلویزونونو، راډیوګانو او نورو رسنیو کې ورته خپرونې ډېرې او د لوړ کیفیت او د هغوی له ذوق او علاقې سره پروګرامونه جوړ شي، په انټرنټ کې ورته ځانګړې وېبپاڼې او فېسبوک پاڼې جوړې شي او غوره لا دا چې، د ماشوم د ادبیاتو د ودې په برخه کې د نورې نړۍ له تجربو ګټه واخیستل شي او له دې وراخوا ماشوم ته، نه باید چې د درېیم شخصیت په سترګه وکتل شي، هغه ته په درنښت وکتل شي، لکه کاظم خان شیدا چې وایي:

**د ذرې په احوال تل د لمر نظر وي**
**لوی دې نه ګوري واړه په سپکه سترګه**

۱ ادبي تیوري ۲ ادبي کره کتنه ۳ -ادبي تاریخ.

دوکتور اسدالله حبیب په خپله یوه مقاله (ادبشناسی و بعضی مسایل مبرم آن) کې د ادبپوهنې اصلي څانګې په تفصیل سره راپېژني، چې ځینې برخې یې په لنډیز سره رااخلو.

ادبي آثار، شعر او هنري نثر د هنر له ډولونو څخه یو ډول دی او د ټولنیز شعور یو شکل. هغه پوهه چې دغه ټولنیز شعور مطالعه کوي، د "ادبپوهنې" په نوم یادېږي، چې دا لاندې درې اصلي څانګې لري:

۱ ادبي تیوري: د ادبي پدیدو ټولنیز ماهیت او د تخلیقي ادبیاتو د ټولنیزې پرمختیا د قانونمندۍ ځانګړنې مطالعه کوي او د ادبي آثارو د څېړنې او بررسۍ له پاره عام اصول وضع کوي....

۲ د-ادبیاتو تاریخ: چې د ادبي پرمختیا بهیر مطالعه کوي او په دې بهیر کې د بېلابېلو ادبي پدیدو ځای او ارزښت ټاکي....

۳ ادبي کره کتنه (نقد): چې موخه او هدف یې د هغه یا دغو ادبي پدیدو شننه او تحلیل او د هغو هنري ارزښتونه ښودل او معلومول دي. (۴)

د "مرجع شناسي و روش تحقیقي در ادبیات فارسي" اثر لیکوال د ادبپوهنې اصلي څانګې پنځه بولي او لیکي:

څېړونکي، ادبپوهنه یا ادبي مطالعات په دې لاندې پنځو برخو وېشي:

۱ نظري ادبیات یا د ادبیاتو تیوري: چې یوه برخه کې د هنري ښکلا او طبیعي ښکلا احساس او د ښکلا پېژندنې د دغو دوو جزونو ترمنځ د اړیکو په اړه څېړنه ده او بله برخه د ادبیاتو د موخې او هدف، د ادبیاتو د ماهیت او رښتینې معنا او ځانګړنو په اړه، چې د نړۍ په ټولو ادبیاتو کې ګډ دي، د ادبیاتو د اساسي دندې، په ټولنه کې د اغېز کولو او د بشر په ژوندانه او فکري یا معنوي وده او پرمختیا کې د هغو نقش او ونډې څېړنه او مطالعه ده.

۲ ادبي کره کتنه: د ادبي آثارو او لیکنو د هنري ښکلا او ارزښتونو معلومول دي.

۳ پرتلیز ادبیات: د نړۍ د هېوادونو د بېلابېلو ډېرې مهمې څانګې (ادبي تیوري) په اړوندو ښاخونو کې شامله ګڼل شوې او په ادبي تیوري کې د بحث یوه ډېره مهمه برخه او موضوع ده.

په معاصرو ادبي څېړنو کې د ادبپوهنې له پاره درې اساسي او بنسټیزې څانګې (ادبي تیوري، ادبي کره کتنه او ادبي تاریخ یا د ادبیاتو تاریخ) ښودل شوی دی. البته په ځینو وېشونو کې اصلي او فرعي څانګې سره ګډې شوي او ځینو کې بیا لکه د دې پورته وېش په څېر د یوې اصلي څانګې اړونده ښاخونه د اصلي څانګو په توګه معرفي او پېژندل شوي دي.

**دوهم – د ادبپوهنې فرعي څانګې:**

په ادبي څېړنو کې د ادبپوهنې یو شمېر فرعي څانګې هم ښودل شوې دي، چې دلته یې په لنډه توګه در پېژنو:

د "فرهنګ ادبیات پښتو" درېیم ټوک لیکوال د ادبپوهنې فرعي څانګې داسې را پېژني:

ادبپوهنه پر اصلي او بنسټیزو څانګو سربېره دا لاندې فرعي څانګې هم لري:

الف: د ادبپوهنې تاریخ، چې له څېړونکو سره د ادبپوهنې د هرې څانګې د ودې او پرمختیا په پېژندنه کې مرسته کوي.

ب: متن پوهنه.

ج: کتاب پوهنه.

سربېره پر دې ادبپوهنه له فلسفې، ښکلا پېژندنې، هنر پېژندنې او ژبپوهنې څخه مرسته غواړي. (٦)

کاندید اکاډمیسین محمد صدیق روهي د ادبپوهنې د فرعي څانګو په اړه لیکي:

"ادبپوهنه ځینې فرعي څانګې هم لري، لکه: ادبي هیسټوروګرافي (د ادبي تاریخ لیکنې مېتودولوژي)، سبک پېژندنه، بیبلوګرافي (کتاب ښود) او ډراماټرجي، البته ډراماټرجي د سینماتوګرافي په شان د هنرپوهنې جلا څانګه ده. اوسنی تمایل دا دی چې هغه د ادبپوهنې په ساحه کې ونه څېړل شي." (۷)

د ادبپوهنې د فرعي څانګو په پورتني وېش کې سبک پېژندنه یا سبک پوهنه هم د ادبپوهنې یوه

ب: متن پوهنه، اثر له هر ډول اشتباهاتو او له بهر څخه وارد شویو مطالبو څخه پاکوي او د اثر له لیکوال سره د مواردو په پېژندنه او تشخیص کې مرسته کوي.

ج: د لیکوال د آثارو په کتاب پېژندنه کې په لنډو څرګندونو او توضیح سره، چې د هغو کتابونو د بېلابېلو چاپونو په اړه، چې د نوموړو آثارو په هکله لیکل شوي او د هغو آثارو په اړه چې له عمومي ادبپوهنې څخه بحث کوي، لیکل کېږي. دغه ډول څېړنې له لوستونکو یا مطالعه کوونکو سره دا مرسته کوي، چې د زیات شمېر کتابونو او خپرونو ترمنځ د خپلې خوښې او اړتیا وړ څه په اسانۍ سره ترلاسه کړي." (۸)

مأخذونه:


(۱) الهام، محمد رحیم (پوهاند، د اکاډمیسین کاندید)، د ادب مسألې، د افغانستان د لیکوالو انجمن، ۱۳٦۷ المریز کال، ۱۴ مخ.

(۲) رنه ویلیک او استن وارن (لیکوال)، ضیاء مؤحد او پروېز مهاجر (ژباړونکي)، نظریه ادبیات، دویم چاپ، تهران، ۱۳۸۲ المریز کال، ۳۲ مخ.

(۳) روهي، محمد صدیق (د اکاډمیسین کاندید)، د پښتو ادبیاتو تاریخ، معاصره دوره، محمد صدیق فرهنګي ټولنه، ۱۳۷۸ المریز کال، ۱۲ ۱۵ مخونه.

(۴) حبیب، اسدالله (ډاکټر)، ادب شناسی و بعضی مسایل مبرم آن (مقاله)، لکچرهای آموزشی (د مقالو ټولګه)، کابل پوهنتون، ۱۳٦۲ المریز کال، ۴۰۳ مخ.

(۵) ستوده، غلام رضا (ډاکټر)، مرجع شناسی و روش تحقیق در ادبیات فارسی، سازمان مطالعه و تدوین کتب علوم انسانی دانشگاه ها، تهران، د چاپ کال نه لري، ۳۵۷ -۳٦۰ مخونه.

(٦) هېوادمل زلمی، فرهنګ ادبیات پښتو، درېیم ټوک، د چاپ او خپرونو دولتي کمېټه، ۱۳٦٦ المریز کال، ۱۰ -۱۱ مخونه.

(۷) د پښتو ادبیاتو تاریخ، معاصره دوره، ۱۵ - ۱٦ مخونه.

(۸) لکچرهای آموزشی، ۵ مخ.

# د پښتو د نوي ادب...

شوې دي.

د پښتو په لیکلي ادب کې هم، له لسمې پېړۍ نه را په دېخوا کیسې لرو او د پېښور د لنډۍ د اخوند احمد لنډې منثورې کیسې، چې درې نیم سوه کاله پخوا لیکلې شوې، د ننني لنډې کیسې لیکنې په چوکاټ کې ښه مطالعه پرې کېدلای شي او ډېرې هغه باریکۍ په کې شته، چې نننۍ کیسه لیکنه یې له موږ څخه غواړي. د حضرت یوسف علیه السلام کیسه یې چې ما د "ورک زوی څنګه پیدا شو؟" په نامه په ځانګړې کتابي بڼه چاپ کړې ده.

پردې سربېره، زموږ زیاتې ولسي فولکلوري کیسې، چې موږ یې کیسې بولو، همدلته زموږ خلکو رامنځ ته کړې او د پښتني کلتور زېږنده دي، لکه: آدم خان درخانۍ، پتې خان رابیا، مومن خان شیرینۍ او نورې، دا کیسې هم خاص جوړښت لري، چې د نننۍ لنډې کیسې زیاتې منل شوې باریکۍ په کې شته.

بیا هم هغه کیسه چې موږ یې نن لنډه کیسه بولو او د غرب د شارټ سټوري په پېښو او پېروۍ رامنځ ته شوې، په غرب کې له نولسمې پېړۍ څخه رانښلېدلې او په پښتو کې د شلمې پېړۍ محصول ده، دې کیسې که په غرب کې هر څومره ځلک او بلک درلود، خو پښتو ته په "شلېدلې پڼه" کې د پښتو د لوی لیکوال راحت زاخېلي کره راغله او د شلمې پېړۍ په لومړۍ لسیزه کې یې د کیسې علاقمندانو ته پرونی له مخې لرې کړ. دا کیسه که هر څومره په زړو جامو او شلېدلې پڼه کې وه، خو پښتني ښکلا له لېرې نه په کې برېښېدله او هغه د اروابښاد الفت خبره: "په زړو جامو کې ما ولیده حوره".

"کونډه نجلۍ" هم د پښتو د دوهمې کیسې په توګه له راحت صاحب کره وزېږېده، دا کیسه هم د ناوړو او کرغېړنو دودونو په کړۍ کې راګیره وه، خو د یوې ښې کیسې ټولې خوبۍ په کې وې او بیا نو په پښتو کې لنډه کیسه دود شوه او د خورې ورې پښتونخوا له ګڼو لیکوالو کره وزېږېده او د کتابونو، مجلو، جریدو او ورځپاڼو غېږې یې ډکې او ورسره د راډیو او ټلویزیون پر څپو سوره شوه.

د شلېدلې پڼې په زوکړې کې اختلاف دی، ډېر لیکوال عقیده لري، چې دا کیسه په ۱۹۱۸ زیږدیز کال له راحت صاحب کره هغه وخت وزېږېده، چې "کونډې نجلۍ" یو کال پخوا د مشرې کیسې په توګه له ده کره سترګې پرانیستې وې او دا کیسې راحت صاحب د هغه نهضت تر اغېز لاندې رامنځ ته کړې، چې "منشي پریم چند" د شلمې پېړۍ د دوهمې لسیزې په پیل کې په سرحد کې د اردو افسانې په لیکلو سره پیل کړی و.

د اروابښاد سید تقویم الحق کاکاخېل د معلوماتو له مخې، دا کیسه د ۱۹۰۸ زیږدیز کال ده: "راحت زاخېلي نه صرف ناول لیکل شروع کړل، د شلېدلې پڼه ۱۳۲۶ هـ ق/ ۱۹۰۸ زیږدیز په نوم یې د افسانو ابتدا هم وکړه" او هم نوموړي محقق خپل د پښتو آثارو په کرونولوژیک فهرست کې دا کیسه د ۱۹۰۸ کال په چاپي آثارو کې داسې راوړې ده:"۱۳۲۶ هـ - ۱۹۰۸ ع: اسرار العارفین د شېر محمد هوتک، ګلبڼ نعت د عبدالحکیم، چار درویش نعمت الله، شلېدلې پڼه راحت زاخېلی، دېوان احمد کلاچي".

د تقویم صاحب لیکنه له لیدنې سره اړه لري او په خپل فهرست کې راوړي آثار یې جنساً لیدلي، نو ځکه باوري برېښي چې شلېدلې پڼه یې په چاپي بڼه لیدلې وي او چې دا روایت ومنو، نو د پښتو لنډې کیسې د پریم چند د اردو کیسو په تعقیب نه دي رامنځ ته شوي او تردې وړاندې یې سترګې غړولې او د راحت صاحب یو تازه قدم دی، چې د پښتو ادب په ورشو کې یې ایښی دی. د راحت صاحب د کونډې نجلۍ چاپي متن پخوا موندل شوی و، خو شلېدلې پڼه کلونه – کلونه ورکه وه، چې څو کاله وړاندې د پښتو هڅاند او تپاند لیکوال ښاغلي زرین انځور بیا مونده او بیا یې خپره کړه.

دوهم ناول:

د ناول تر زېږېدو وړاندې رومانونو د ادبي ذوقونو د خړوبولو دنیا رنګینه کړې وه، په رومانونو کې به ډېرې ماوراء الطبیعي او خارق العاده پېښې پېښېدلې او لوستونکي یا اورېدونکي به په مینه لوستې او اورېدلې، خو د ادب او ژوند له پرمختګ سره د رومان د نده ناول ته ور انتقال شوه. ناول لکه نورو معاصرو ادبي ژانرونو غوندې خپل مواد له ټولنې څخه واخیستل او له داسې پېښو څخه یې غېږ راوڅرخوله، چې له روان ژوند سره تړلې، طبیعي، عقل منونکې او ذهن ته لوېدونکې وې او لوستونکي یا اورېدونکي ته داسې ښکاري، چې دا نو یوه واقعي پېښه ده او ناول لیکونکی له ځانه نه دی ګډه. ناول هم د نورو ادبي ژانرونو غوندې له بېلابېلو برخو څخه جوړ دی، تر هغه څه وړاندې یو پلاټ یا طرح غواړي، کرکټرونه یا پرسوناژونه یې ټاکل کېږي، زماني او مکاني شرایط یې له جغرافیایي او کلتوري غوښتنو سره سم په نظر کې وي، د پرله پسې پېښو سلسلې، اوجونه یا ګنډې او تضادونه لري او په پای کې د انفلاق، داسې ټکي ته چې لوستونکي ته ژر ټکان ورکولی شي، رسېږي.

په پښتو ادب کې له پخوا راهیسې اوږدې نړیوالې فولکلوري او ملي کیسې د مثنوي په کالب کې یا په نورو بڼو را رواني دي، په دې کیسو کې ډېر داسې کړه وړه موندلای شو، چې د نني ناول له فني غوښتنو سره سمون خوري او که نور څه نه وي، د خلکو د ناول ذوق او مینه یې په ښه توګه خړوبه کړې ده، چې موږ یې د پښتو ناول په څېړنه کې د سریزې په توګه له یادونې څخه سترګې نه شو پټولای.

په اروپا کې ناول د اتلسمې او نولسمې پېړۍ په پیوستون کې سترګې وغړولې او الماني لیکوالو وده ورکړه، چې خصوصاً په دې کې د جرمني د لوی شاعر "هاینه" لوی لاس دی.

پښتو ته هم ناول، لکه نورو نویو ادبي ژانرونو غوندې د شلمې پېړۍ له پیل سره راغلی او د مېلمه، یعني ترجمې په بڼه یې د پښتو ادب پر درشل پل ایښی دی. د په لاس کې معلوماتو له مخې، د ډپټي نظیر احمد "توبة النصوح" لومړی ناول دی، چې میا محمد یوسف کاکاخېل په پښتو ژباړلی او په ۱۳۲۳ هـ ق/ ۱۹۰۴ ع کال چاپ شوی دی.

ورو ورو له دې نوي مېلمه ناول سره، پښتانه لیکوال اشنا شول او د پښتو مبتکر شاعر او لیکوال راحت زاخېلي، چې د نوي او زاړه ادب ډېرې کړۍ یې سره وصل کړې وې، د ناول کړۍ یې هم د پښتو کیسو له اوږده زنځیر سره ونښلوله او په پښتو کې یې "ناول د ماه رخې" یا "نتیجۀ عشق" ولیکله، ده د دې ناول په پیل کې لیکلي: "دا کتاب في الواقع صحیح قصه ده، مګر د یوې وجهې اصلي نوم پرې ایښی دی، د حال زمانې سرګذشت دی، چشم دید واقعه ده، چې په سنه ۱۹۰۶ – ۱۹۰۷ ۱۹۰۸ او ۱۹۰۹ کې تېره شوې ده". په دې ډول په پښتو کې ناول له یوې واقعي پېښې نه رانښلېدلی، په چاپي نسخه کې یې د تالیف یا چاپ کال نشته، خو د کتاب قد او قواره، کړه وړه او د پېښو له کلونو نه اټکل کېدای شي، چې دا ناول دې د ۱۹۱۰ - ۱۹۱۱ کلو شا او خوا لیکل شوی او همدا وخت خپور شوی وي. د دې له پاره چې ناول په پښتني ټولنه کې بېخي کوربه ښکاره شي، نو ځای پرځای لنډۍ هم په کې راوړل شوې او په دې ډول له پښتو ولسي ادب سره غوټه شوی دی.

هو! پښتو ادب ته را مېلمه شوي ناول اروابښاد راحت کوربه کړ او بیا یې نو د پښتو ادب په کورنۍ کې نوي ګامونه واخیستل، وده یې وکړه او ګڼ ناولونه رامنځ ته شول.

د راحت صاحب ناول هم، لکه د ده شلېدلې پڼه غوندې ورک و، ما چې په ۱۳۵۳ کال پښتو پانګه لیکله، د دې ناول یوائینۍ نسخه مې د کابل په عامه کتابتون کې وموندله او معرفي مې کړه، بیا چې د پښتو نامتو لیکوال ډاکټر خالد خان خټک پر ناول کار کاوه، د همدې یوائینۍ نسخې له مخې یې د هغې نقل واخیست او بیا په کابل کې یو ځل بیا چاپ شو او د پښتنو څېړونکو او مینه والو لاس ته ولوېد.

راحت صاحب د پښتو لنډې کیسې او ناول په رامنځ ته کولو د پښتو ادبي ټوټه هم رامنځ ته کړه او نورو یې هم نوي ګامونه واخیستل، په ټولنیزو مسایلو کې یې په خوږه ادبي ژبه انتقادونه وکړل او خواږه شعرونه یې وویل.

---

یادونه: دا مقاله د راحت زاخېلي د پنځوسم تلین په مناسبت لیکل شوې وه.

# د فونیټیک او...

ارزښت ولري او یا یې ونه لري، د یوې مخې تر څېړنې لاندې نیسي.

خوږ ژبي لیکوال او پیاوړي ژبپوهاند حبیب الله تږي په خپل اثر "نوې ژبپوهنه او ژبني مسایل" کې د فونیټیک په باره کې داسې ویلي دي: ...فونیټیکس دوې څانګې لري، چې یوه یې Articulitary phonetics ارټیکولېټري فونیټیک بلل کېږي او په دې کې د غږیز جهاز د غړو حرکات او څرنګوالی مطالعه کېږي. بله څانګه یې Acoustic phonetics اکوسټیک فونیټیک بلل کېږي او په دې کې د وییز غږ څپې او څرنګوالی مطالعه کېږي.(۱)

د دې له پاره، چې د فونیټیک له پراخې ساحې سره آشنا شو، دا به ښه وي، چې د هغه اړوندې څانګې وپېژنو:

عمومي فونیټیک: دا فونیټیک د هغو ښو ښانو په اړه څېړنې کوي، چې د هغو په واسطه د هرې ژبې د آوازونو اړخ ښودل شوی یا دا چې څرنګوالی یې په ګوته شوی وي.

خاص فونیټیک: دا د فونیټیک هغه څانګه ده، چې د آوازونو په لحاظ یوه مشخصه ژبه مطالعه کوي، لکه د الماني ژبې فونیټیک، د فرانسوي ژبې فونیټیک. له دې یادونې څخه مطلب دادی، چې د یوې مشخصې ژبې له آوازونو سره سروکار لري.

تشریحي فونیټیک: د فونیټیک دا څانګه په یوه مشخص زماني پړاو کې د ژبې د آوازونو اړخ مطالعه کوي.

تاریخي فونیټیک: د فونیټیک دا څانګه د ژبې د آوازونو د اړخ انکشاف مطالعه کوي او په همدې علت د تشریحي فونیټیک له څانګې سره ارتباط لري.(۲)

ماخذونه:

(۱) نوې ژبپوهنه او ژبني مسایل، ٦٦ مخ.
(۲) د ژبپوهنې پېژندنه (په جرمني ژبه)، ۷۹ مخ.

## لنډۍ د استاد...

ساتل شوې ده، د ولس فکر، هوښیاري، ملي تاریخ، اجتماعي جوړښت، ژوند، جهان بیني، کړه وړه او عادتونه په سندرو او لنډیو کې په ښکاره او قوي ډول څرګند شوي دي. پښتو ژبه چې له باریکیو او استعارو څخه ډکه ده، د لنډیو برخه یې خورا غني او بډایه ده، دغه لنډۍ زیات نومونه لري او لکه په وزرونو باندې له یوې پېړۍ نه بلې او له یوه نسل نه بل ته الوځي او له یوې خولې نه بلې ته ځي. د ژوند ټولې پېښې په سندرو او لنډیو کې ځای شوې دي او لکه چې د ژوند پېښې او روابط ډېر دي، همدغسې د سندرو او لنډیو شکلونه بې شماره دي. له ډېر پخوا نه د ژوندانه د پوهې او تجربو په محصول (لنډیو) کې د خلکو خوشالي او غمونه، خندا او ژړا، مینه او کینه، باوري او بې باوري، رښتیا او دروغ، سم چلند او ټګي، زیار او لټي، حقایق او اوهام، دنیا او عقبا، اخلاق او فساد او داسې نورې په ژوندانه پورې مربوطې چارې ځای شوې، چې موږ ورنه خوند، پند او عبرت اخلو او د مینې د مطالعې یوه ستره هینداره ده، لنډۍ او ولسي سندرې، چې د پوهې، مینې، احساساتو او حکمت چینه ده، دا په اصل کې د ژوند له جریان نه راوتلې دي او له دغه جریان نه ترجماني کوي...

د لنډیو خلاق ولس دی او لنډۍ د ولس مال دی، کومه شهکاري، حکمت او فلسفه چې په لنډیو او سندرو کې ځان ښکاره کوي، د هغو نسبت ولس ته کېږي، ولس په اجمالي او مجموعي ډول سره عالم، حکیم، مبتکر او فیلسوف دی او د ټولو کمالاتو منبع، چینه او مرکز همدا ولس دی. موږ پوهېږو چې کوم نوابغ، عالمان، مجتهدین او څېړونکي، چې د بشریت له پاره خدمت کوي، همدغه ولس وړاندې کړي دي او کوم افتخار چې په ټولنه کې اشخاص ګټي، هغه په حقیقت کې د ولس افتخار دی.

نو اې منګله! لنډه دا چې لنډۍ له ولس څخه په ټوله ادبي او ټولنیزه رنګینۍ منځ ته راځي. دا ووځو ټکي، چې ستا د هیلې له پاره مې درته وکښل".

د اروابښاد استاد معتمد جنتي شینواري، د دغه عالي نظر لمن به په دغو څو لنډیو سره، چې له خلکو څخه راټولې شوې، درته ښکلې او ښایسته کړو:

سولې راتلو ته ځان تیار که
بیا د وطن په غېږ کې که خوارېږه خوبونه
***

مینه له سترګو پیدا کېږي
ځکه پېغلې په رنجو ډېر روهي لاسونه
***

جنګ د کابل په جګو غرو دی
بالاحصار په غونډۍ نېغ ورو خاتنه
***

جلکۍ د غواؤ غوبانه ده
وړکیه غوبون شه پسې وغواړه راغونه
***

د سپینې خولې واک مې درکړی
تا چې زما په سر اخیستي تومتونه
***

دا سپینې لېچې به خالي کړم
یار مې ویده دی چې شرنګ شرنګ راته کوینه
***

چې دولتمن وم هر چا یار وم
چې نیستي راغله څوک مې خواته نه راځینه
***

ما په نیستۍ کړلی نه یې
زه خو دې ټولې کورنۍ ته سلام کمه
***

دا تورو سترګو ته دې وایه
چې یې را واړوي لمبه لمبه مې کینه
***

چې د قطر موټر ته خېجې
زما وړه جامه دړنګه که مینه
***

که د اختر په شپه رانغلې
نصیب د مه شه د سرکو شونډو سرونه
***

دیدن په لک خندا په زړ ده
د سپینې خولې بیه به نه معلومومه
***

د پسرلي په وخت کې راشه
که نور څه نه وه پوځه خوله به در کومه
***

په ګودر سپینې بلنډې شوې
په سمه لاره تېرېدم ویې ویشتمه
***

په روحاني د ستا قسم وي
چې ګړی واخلې مخ راواړوه مینه

## استاد عبدالرووف بېنوا...

یا ویاله د سرو شرابو
چې تویېږي یوه جام ته
دا میدان د کربلا دی
که سالو سور د لیلا دی
دا زړګی د آسمان وچاود
که سینه د دېوانه ده
یا ساقي له لاسه ښکته
چپه سوې پیمانه ده
او که درس د عبرت لیک دی
ښه رنګینه افسانه ده
موږ ته یاده جانبازي کړي
د نیکونو سربازي کړي
د مومن د زړه په وینو
شیرینو سور کړی لاس دی
که کفن د شهیدانو
پرښتو نیولی پاس دی
یا دنیا کې خونرېزي ده
پر افق یې انعکاس دی
یا شفق د کوهستان دی
را چاپېره پر آسمان دی (۷)

لنډه دا چې: د اروابښاد استاد عبدالرووف بېنوا شاعرانه فطرت، خوی او عادت، خپل ولس، ګران هېواد او ملي ارمانونو ته، د یوه متعهد شاعر مزاج او طبیعت و. د ده په شعر کې، شاعرانه درک او په پښتنه وینه او ختهه کې یې، هنرمندانه احساس، د ژوند له ژورې معنا سره سره سم اخښلی شوی و. د ده په ذهن کې، د طبیعت د ښکلا له پاره رنګین الفاظ او د خپلې افغاني ټولنې د ځپل شویو ارمانونو د بیان له پاره، د پښتني ارمانونو، هیلو او خوشحالیو د اظهار له پاره درد او هڅه، د ده د شاعرانه فطرت غوښتنې وې او د دغه حساس او پیاوړي شاعر، دردمن انساني زړه او نقاد ذهن یې، ناارامه او تیت او پرک ساتلی و. د هېواد او ملت هرې پېښې او د خپل ولس او خاورې هر غم او ښادي، د ده د احساس او نظر لمنه ځان ته راکښ کړې ده.

د استاد بېنوا د شعر په هینداره کې، د ده د تاریخي او جنتي هېواد او د ده د آزاد، زیارکښ او ویاړلي ولس ژوند او ارمانونو داسې ځلا موندلې ده، چې په خوږه پښتو ژبه، دلکښو او زړه راښکونکو، ګلالیو او ښایسته الفاظو کې، په ډېر هنر او ښکلا سره څرګند شوی دی.


سرچینې:

(۱) پوهاند دکتور سید بهاؤالدین مجروح، ځانځاني ښامار، کابل پوهنتون، د ادبیاتو او بشري علومو پوهنځی، ۱۳۵۶ هـ.ل. کال، دریېیم مخ.

(۲) عبدالباري جهاني، د مشکو کاروان، کوټه، صحاف نشراتي مؤسسه، ۱۳۸۵ هـ. ل. کال، دویم چاپ، ۲۶۳ مخ.

(۳) بېنوا، عبدالرووف -آریانا دایرة المعارف (دویم ټوک)، کابل، د علومو اکاډمي، د دایرة المعارف ریاست، ۱۳۸۷ هـ. ل. کال، نبراسکا مطبعه، ۲۷۵ مخ.

(۴) د مشکو کاروان، ۲۶۹ مخ.

(۵) عبدالرووف بېنوا، پرېشانه افکار، د استاد ګل پاچا الفت سریزه.

(۶) روهي، محمد صدیق (کاندید اکاډمیسین)، د پښتو ادبیاتو تاریخ معاصره دوره، پېښور، د محمد صدیق روهي فرهنګي ټولنه، دانش کتابتون ۱۳۷۸ هـ. ل. کال، ۱۱۰ مخ.

(۷) د مشکو کاروان، ۲۷۱ مخ.


## غزل

شرر ساپی

چې را په یاده شې نو بې اختیاره وژاړمه
لکه د بلې شمعې سم له واره وژاړمه

درشمه ستا د پلونو نښې چېنوم کوڅو کې
بېرته راستون شم او په ټوله لاره وژاړمه

د خپلې مینې او د خپلې بېوسې پر پوله
کله پر ځان او کله ستا له پاره وژاړمه

څوک د ژړا نه لرم بې له تا، ته هم نه راځې
په خپل جسد به مې تر خپل مزاره وژاړمه

درپسې ټوله شپه رڼه کړمه په خپلو اوښکو
درپسې ټوله شپه شرره یاره وژاړمه

چهارشنبه ■ ۱۱ – ۱۲ مه ګڼه ■ دربیمه دوره ■ پرله پسې ۲۱۱ - ۲۱۲ مه ګڼه ■ ۱۳۹۳ لمریز کال د وږي ۲۶ مه ■ ۱۴۳۵ هـ ق کال د ذوالقعدې ۲۲ مه ■ ۲۰۱۴ زېږدیز کال د سپټمبر ۱۷ مه ■ ۴ مخ


# زېږی

پنځلس ورځنۍ جریده

د تأسیس کال ۱۳۱۶ هجري شمسي

د کتونکي ډلې تر څارنې لاندې

مسوول مدیر: څېړندوی محمد اصف احمدزی

مهتممه: څېړندویه ملکه مشتري

کمپوز او ډیزاین: م. ا. احمدزی

zerai1316@gmail.com

facebook.com/Zeerai1316

۰۷۷۷۳۰۰۴۷۱

د افغانستان د علومو اکاډمي

د ژبو او ادبیاتو د مرکز

خپرنیز ارګان

پته: د علومو اکاډمۍ، د ژبو او ادبیاتو مرکز، زنبق څلورلارې، نوی ښار، کابل - افغانستان


# استاد عبدالرووف بېنوا د خپلو شعرونو په هینداره کې

◊ څېړنوال محمد نبي صلاحي

استاد عبدالرووف بېنوا د خپلو شعري آثارو، رندانه نثر، د راتلونکو بدلونونو په اړه په خپلو علمي او شعري اټکلونو او پیشبینیو او د اوسني لیکوال په شان، د اوچتې ادبي تذکرې د دربیو ټوکونو په ترتیبولو او لیکلو او د (زوړ ګنهګار) په څېر، د لوړو ادبي ډرامو په وړاندې کولو سره، په وار وار دا ثابته کړې ده، چې نه یوازې د خپلې زمانې، یو په هېواد مینځ ژمن لیکوال او شاعر دی، نه یوازې یې خپله زمانه انځور کړې، بلکې نوي نسل ته یې، د راتلونکو بدلونونو په اړه هم، معقول خبرداری او پیغام ورکړی دی. استاد د هر شاعر او لیکوال په اړه، د معلوماتو وړاندې کولو په لړ کې، خپل نظر هم لیکلی او هغه ورځ تر بلې پورې، د راتلونکو څېړنو په بهیر کې، خپل ارزښت زیات کړی دی.

د استاد بېنوا یو بل غټ کمال، پر یو شمېر ادبي آثارو د سریزو لیکل دي. یوه له هغو لوړو علمي او ادبي سریزو نه، د شهید استاد پوهاند دوکتور سید بهاءالدین مجروح پر شهکار شعري اثر «ځانځاني ښامار» باندې، د استاد عبدالرووف بېنوا، معیاري سریزه ده، چې (د مقدس بغاوت) تر سرلیک لاندې یې لیکلې ده. د دغې سریزې په وروستي پرګراف کې ویل شوي دي:

« نو اې فلسفي استاده !<br>
دا مقدس بغاوت دې مبارک سه<br>
ټوله مړه دي ټوله مړه دي<br>
که زاړه دي که واړه دي.» (۲)

استاد بېنوا د دې تیاره کور پر ګلانو، خپل زړه بایللی و او د یوه دلباخته شیدا بلبل په شان یې، پر ګلانو باندې، په شعري ژبه شاعرانه چیغې او نارې سورې وهلې او د سهري نسیم، د سحري نغمو په ورېمو کې یې، ګلانو ته خپل پټ الهامونه زمزمه کړي او د خزان له شواخونه یې، د دې هېواد د تنکیو ګلانو له درانه خوبه د راپاڅولو، هڅه کړې ده، خو دریغه چې، د ګل پر ځای غماز راپاڅېد او د شاعر د ارمان وزرونه یې مات کړي او په دې ډول، د شاعر تر سینه یو وار بیا، تېره اغزي او خارونه ختلي او شاعر داسې شول شید دربدلی دی، چې چا ته خپل دردونه او افسوسونه زمزمه کړي. راځئ، دا حالت په خپله د شاعر له خولې واورو:

دلباخته شیدا بلبل وم<br>
کړه پر ګل مې آوازونه<br>
سحري نغمو کې ګل ته<br>
راوړه ما پټ الهامونه<br>
ما ویل زه به ګل خبر کړم<br>
د خزان له شواخونه<br>
ګل ویده غماز راپاڅېد<br>
زما یې مات کړل وزرونه<br>
آه و چا ته درد اظهار کړم<br>
په سینه مې دي خارونه<br>
نه یو سرای نه یوه خونه<br>
حبسوي لوی هېوادونه<br>
چې بندي پرې نه پوهېږي<br>
داسې سو د زولانې رنګ<br>
غلی شانته انقلاب دی<br>
بدلوي د زمانې رنګ<br>
طلايي جام کې د دور<br>
شراب زهر دي په دور<br>
نوشول یې غواړي غور<br>
اې سرمست زلمیه پام کړه<br>
بل راز سو د میخانې رنګ<br>
غلی شانته انقلاب دی<br>
بدلوي د زمانې رنګ<br>
سره واوښتل قومونه<br>
ویښ خبر سول له ژوندونه<br>
د ویدو سول وران کورونه<br>
ګوره کله به سي نوی<br>
د پښتون د کاشانې رنګ<br>
غلی شانته انقلاب دی<br>
بدلوي د زمانې رنګ (۴)

د استاد بېنوا دغه شعر، د یوه لوی خطر شعري زنګ دی، چې د دې تاریخي هېواد د ژغورنې په خاطر، د شاعر له خوا کړنګول شوی دی.

استاد الفت د بېنوا شاعري داسې را پېژني:

«زه د ښاغلي بېنوا شاعري د ده په نورو

✹ محمد اصف احمدزی

# ادبي او فرهنګي خبرونه

## ګردېز کې د"غزل شپه" په نوم مشاعره ترسره شوه

په پکتیا ولایت کې د "غزل شپه" په نوم مشاعره د وږي په دویمه، چې لسګونه شاعرانو او فرهنګیانو په کې برخه اخیستې وه، د پکتیا په مرکز ګردېز کې د اوښتون کلتوري ټولنې له لوري د کوزې پښتونخوا د شاعر "اسرار اتل" په یاد جوړه شوې وه. د یادې ټولنې غړي محمد کریم نوښتګر په وینا، دا ډول مشاعرې د شعر او ادب تر څنګ د کلتوري ارزښتونو د ژوندي ساتلو لپاره خورا ګټورې دي. اسرار اتل په خپلو خبرو کې ویلي، چې شعر او ادب پوله نه لري او نه باید د هغوی مخه ونیول شي، چې ګډ کلتوري ارزښتونه سره نمانځي. تر وینا وو وروسته آزاده مشاعره وشوه، چې ګڼو شاعرانو په کې خپل شعرونه واورول.

*****

## د ډاکټر پرګنیز د شعري ټولګې مخکتنه وشوه

د پښتو ژبې د تکړه شاعر ډاکټر نعمت ګل پرګنیز د لومړۍ چاپ شوې شعري ټولګې "د لمر په تال کې" د مخکتنې غونډه د وږي په څلورمه په کابل کې د "قلم ټولنې" له خوا جوړه شوې وه، چې ګڼ شمېر لیکوالو او فرهنګیانو په کې برخه اخیستې وه او د هغه په شخصیت او شاعرۍ یې خپلې لیکنې او ویناوې واورولې.

نعمت پرګنیز د کونړ ولایت اوسېدونکی دی او له تېرو څو کلونو راهیسې شاعري کوي، خو د دې ترڅنګ یې نثري لیکنې هم کړې دي.

****

## د وږي نهمه د پښتنو او بلوڅو د پیوستون ورځ ولمانځل شوه

د پښتنو او بلوڅو ورونو سره د پیوستون د ورځې په ویاړ د سرحدونو او قبایلو چارو وزارت په نوښت د وزارت په انګړ کې د وږي په نهمه غونډه جوړه شوه، چې په کې له دولتي چارواکو سربېره لسګونو پوهانو، څېړونکو، ادیبانو او فرهنګیانو ګډون کړی و. د غونډې په لومړۍ برخه کې د یادې ورځې په اړه د سوېلي پښتونخوا او خیبر پښتونخوا د راغلو مېلمنو په ګډون یو شمېر ویناوالو خبرې وکړې، ورپسې د همدې ورځې په باب علمي - څېړنیز سیمینار ترسره شو، چې ځینو څېړونکو په کې مقالې واورولې.

تر سیمینار وروسته د ډیورنډ د دواړو غاړو د شاعرانو له خوا مشاعره ترسره شوه، چې ملي او حماسي رنګ یې درلود او ډېري شعرونه یې د پښتنو او بلوڅو روانو ستونزو او پېښو ته ځانګړي شوي وو.

****

## شاعر او لیکوال مصطفی سالک ونمانځل شو

او د «ځانځاني ښامار» په باب کې د یوه غیر فلسفي او عادي لوستونکي دا ورکوټې انتباه درواخله. کـه ستا د فلسفې سره سمه وه، نـو د «ځانځاني ښامار» خولې تـه یې ور وغورځوه او کـه نـه نو هیڅ! » (۱)

موږ د استاد له دغه یوه پرګراف نه پوهېدی شو، چې د ده رندانه نثر، پـه کومـه کچـه کې ده. دغه ور، استاد بېنوا د شعر پـه نـړۍ کې، د خپلو پرېشـانه افکـارو لړونـه سـره پېیلـي او د افغانسـتان د اوسنیو ادبیـاتو د یـوه پـوخ او حسـاس شـاعر پـه عنوان یې، خپل شعرونه، د ټـولنیزو فکرونـو او د خپـل درد بـدلي ولـس، د غمونـو، دردونـو او ارمـانونو هینداره ګرځولي دي. د ده شعرونه، په ډېره عام فهمه شعري ژبه، اجتماعي افکار تمثیلوي، لوړه انسـاني عاطفه انتقـالوي او پـه لوستونکو کې، انتقـادي روح روزي او د ده د ټـول شـعري مضـمون غایـه، پـه فکري لحاظ، د خپلې ټولنې ژوندي ساتل دي. د ده شـعري زیـار او ادبـي کارنـامې، د ډېـرې ستاینې وړ دي. له ده سره د پښتو ژبې د عامولو او د پښتون ولس د لوړتیا اوچت فکرو، ځکه یـې شـعري او نثـري کـلام، د ادبـي او شـعري نزاکتونو او هم د ټولنیزو مطالبو د افادې لـه امله، د ډېـرې سـتاینې او لمانځنې وړ شاعر او لیکوال دی.

«بېنـوا د شـلمې پېړۍ داسـې شـاعرو، چـې تقریبـاً ټـول شعرونه یـې، د زمـان د شـرایطو او ماحول انعکـاس دي او لکـه پـه خپله چې وایـي، شـعر یـې د کوهسـتان نسـیم دی او د پښـتنو د ویښـولو لپـاره یـې لیکلـی دی... بېنـوا د یـوه ویښ شاعر پـه حیث خپلې اجتمـاعي وظیفـې تـه ښه متوجه و او په دې پوهېده، چې له خپل فطري استعداد څخه، چې له هر چا سره موجود نـه و، د خپل قام د ویښولو لپاره څنګه کـار واخلي. خو کله چې ګوري، چې څوک یـې چیغـو تـه غـوږ نـه نیسي او داسې ښکاري، لکه ټول چې ویـده وي، نو دی ځان د هغـه بېنوا بلبل پـه څېر ویني، چې حتی د ګل تر غوږونو یې غږ نه رسېږي:

سر تر پایه سره لمبه سوم
روغ زړګی مې سوی سکور سو
نه ایرې نه مې دود ښکاري
بل راباندې څنګه اور سو
نه لمبه مې سوه خاموشه
نه رڼا دا تیاره کور سو
په نارو مې ګل ویښ نه سو
څه عبث مې د خولې شور سو
آه سپیره لو هدیره ده
له بلبلو دا بڼ تور سو



ټوله مړه دي ټوله مړه دي
که زاړه دي که واړه دي (۳)

د عبدالرووف بېنوا د شعر ژبه انتقادي ده، خو د انتقـاد د افـاده کولـو لپـاره، چنـداني لـه احساساتي کلماتو او الفاظو څخه کار نه اخلي. معمولاً سمبولونه استعمالوي، ښایسته الفاظ انتخابوي او لوستونکی نـه سـتړی کـوي. دغـه سبک هغـه تـه امتیـاز وربخښـلی دی او دغـه سبک هغه بېنوا کړی او مشهور کړی دی. بېنوا پـه داسـې حـالاتو کـې شـعر لیکـي، چـې پـه افغانسـتان کـې داخلـي تغییـرات او پـه بـین المللي سطح تحولات روان دي. د ده غلی شانته انقلاب شعر یې، چې له سر څخه تر پایه پورې د زمان د تحولاتو په مقابل کې د خبرداري معنا لري، د خپل وخت ډېر مشهور او ژوندی شعر و او تر ډېره نوره وخته پورې به، د پښتو ژبې د شعر له بهیر سره ملګری او ژوندی پاتې شي:

نسیم ووې د ګل غوږ کې
بدل سو د یاراني رنګ
غلی شانته انقلاب دی
بدلوي د زمانې رنګ
ور سره نوي رنګونه
رنګارنګ تحولونه
کړي سمسور به راغ رغونه
نوی ساز نوی آواز دی
هم سو نوی د نغمې رنګ
غلی شانته انقلاب دی
بدلوي د زمانې رنګ
نوی دام نوی صیاد دی
نوی چل نوی بیداد دی
نوی آه نوی فریاد دی
هوښیاري صید لره بویه
بدل سوی د دانې رنګ
غلی شانته انقلاب دی
بدلوي د زمانې رنګ
لري نوي محبسونه

کمالونو غوره ګڼم او په دې باب ور ته په ډېر حق قایل یم. دی طبیعتاً شاعر دی. د ده ژوند، د ده صحبت، د ده خوی، د ده فکـر، د ده ناسته ولاړه، خـوراک او څکـاک ډېـر شـاعرانه رنـګ لـري او اصل رنګ یې همدغه دی.» (۵)

د استاد روهي په نظر: د بېنوا پـه شعرونو کې رومـانتیـک سـوز او هیجـان او رومـانتیـک خیـالات لیـدل کېـږي. دی لـه بېنوانیـانو سـره خواخوږي لري او زړه یې شاعر دی، مګر پـه خپله یې بېنوایي ته غاړه نه کېښوده، خپل ژوند یې خوشـحاله تېـراوه، خـوش معاشـرته او ژونـدی طبیعتـه سـړی و او ظرافت یې ډېر خوښېده. (د شاعر جونګړه) داسې ترسیموي:

د دولت له سودا تشه
خو له ماتو توبو ډکه
صراحي شنه په خندا ده
د غم زړه کباب کباب
د پرون خاطره مړه ده
د سبا انتظار پټ دی
بس د نن تازه مضمون دی
او د عشق نوی کتاب (۶)

نو د استاد بېنوا شعر بل شی نه دی، د ژوند هنري انځور دی، د شاعر د ارمانونو ویندوی او د ټولنې هینداره ده. د ده په شعر کې دا ظرفیت شته، چې زموږ په اوسني شعر کې یې، د شعر د ډېره غوره څېرو په جمله کې حساب کړو. د شاعر په ژوند کې، لـومړنی شـعر او لـومړنۍ مینـه او عشـق، خـاطره زېږوونکې وي. موږ نن لر او بر د پښتو شعر او چټې څېرې لرو، چې د یو شمېر شعري آثـار، داسې لـه هنري انځورونو او نوښتونونه ډک دي، لکه انار چې له دانو نه ډک وي.

د استاد بېنوا دا لاندې شعر، چې د شعر پـه پستو او ورېښمینو کلماتو یـې، د شفق انځور په کې کښلی، د یوه ماهر انځورګر د نقاشۍ لـه تابلو نه ښکلی انځور شوی دی:

هندوکش پر سر لمبې دي
که آسمان سره کناره ده
د کوم سوي زړګي آه دی
یا د وینو فواره ده
که چنګیز د عصر توره
چې له تېکي را ښکاره ده
یا خو بل د مینې اور دی
د فلک پرې سوی سکور دی
د سکندر د وخت شهید دی
په حسرت ګوري بګرام ته
یا لېوال روح د عاشق دی
چې ورځي د یار سلام ته

درېیم مخ

د شاعر، لیکوال او ژورنالست مصطفی سالک د ادبي شخصیت نمانځغونډه د وږي پـه ۱۴مه پـه جلال اباد ښار کې د ختیځ ادبي بهیر له خوا جوړه شوه. په دې ناسته کې ویناوالو د نوموړي په شخصیت، شاعرۍ او ژوند رڼا واچوله او ادبي هلې ځلې یې د پښتو ادب د یوه مخکښ په توګه وستایلې. د طاوس بڼکه (شعري ټولګه)، سندریزې چینې (شعري ټولګه)، توري ستوري، پاتې شه باران دی (ناول)، د اوښکو مسکا، منشور (کره کتنه) او غمی په کچکول د سالک چاپ شوي کتابونه دي.

****

## "د پښتو په معاصر ادبي بهیر کې د مولوي منهاج او د هغه د علمي ادبي کورنۍ ونډه" علمي- څېړنیزه پروژه دفاع شوه

د افغانستان د علومو اکاډمۍ د پښتو څېړنو نړیوال مرکز غړي ښاغلي څېړندوی عبدالظاهر شکیب د څېړنوالۍ علمي رتبې ته د لوړاوي له پاره له خپلې علمي پروژې، چې "د پښتو پـه معاصر ادبي بهیر کې د مولوي منهاج او د هغـه د علمـي ادبي کورنۍ ونـډه" تـر سرلیک لانـدې وه، د ۱۳۹۳ المریز کال د وږي د میاشتې په ۲۳مه په بریالیتوب دفاع کړه. په دې ناسته کې د علومو اکاډمۍ لسګونو علمي غړو او یو شمېر نورو پوهانو ګډون کړی وو.

****

## په کابل کې "غزلیز ماښام" ترسره شو

د پښتو ژبې د ځوانو شاعرانو غزلیز ماښام د "میډیوټیک افغانستان" ادارې کابل دفتر پـه انګړ کې ترسره شو. دغه غونډه، چې د وږي په ۲۶مه، ماښام مهال د میډیوټیک افغانستان او "پل فکري کړۍ" له خوا په ګډه ترتیب شوې وه، په کې لسګونو فرهنګیانو او شاعرانو برخه اخیستې وه.

په دې غزلیز ماښام کې د پښتو ژبې د ۱۱ ځوانو شاعرانو غوره غزلونه د ځوان سندرغاړي مبین وصال پـه خواږه غږ کې د موسیقۍ له څپو سره وړاندې شول.

د میډیوټیک افغانستان د مسوولینو پـه وینا، لـه یادې غونډې یې موخه اصلي او معیاري افغاني موسیقۍ ته د خلک پام وراړول او د ځوانو شاعرانو د غوره غزلونو پېژندنه او هڅونه ده.

****

## د پښتو ژبې او ادبیاتو اړوند یو شمېر کتابونه چاپ شول

- "کلیله او دمنه": دا ارزښتمن کتاب پـه دې وروستیو کې د ډاکټر صالح محمد زېري له لوري پـه پښتو ژباړل شوی، چې ۲۸۸ مخونه لري او پـه کندهار کې پـه ۱۰۰۰ ټوکونو کې د علامه رشاد خپرندویې ټولنې له لوري خپور شوی دی. باید روښانه شي، چې "کلیله او دمنه" اثر په خپل تېر دوه زره کلن عمر کې له ۲۰۰ څخه په زیاتو ژبو ژباړل شوی دی. (بي بي سي وېبپاڼه)
- "زېږي ګلونه": دا اثر چې پـه لنډیو کـې ادبي فنون او نور ټولنیز فولکلوري مسایل پـه کې څېړل شوي، څېړنپوه علي محمد منګل کښلی او په خیبر پښتونخوا کې د میهن خپرندویې ټولنې لـه خوا پـه زرو ټوکونو کې، چې (الف -ح + ۵۰۴) مخونه لري، پـه ۱۳۹۳ لمریز کال چاپ او خپور شوی دی.
- "د کاپیسا ولسي ادبیات": دغه اثر چې د کاپیسا ولایت د ولسي ادبیاتو پـه اړه دی، پوهیالي فهیم بهیر لیکلی او په کابل پوهنتون کې د افغانستان د معلوماتو د سرچینې مرکز (ACKU) له خوا چاپ شوی دی.
- "د پیغمبرانو کیسې": دا لـه عربي ژبې څخه پښتو تـه ژباړل شوې کیسې دي، چې د څېړندوی محمدآصف احمدزي له لوري ترسره شوې او په کابل کې د سیرت خپرندویې ټولنې لـه خوا چاپ او خپرې شوې دي. دا کیسې چې په څلورو کوچنیو ټوکونو کې دي، د پیغمبرانو ۱۸ کیسې پـه کې شاملې دي، چې ټولو په ځانګړې ډول ماشومانو او ځوانانو ته یې لوستل اړین برېښي.
- "استعاره، تخیل او تخلیق": دا ژباړه د عبدالجمیل ممتاز لـه لوري ترسره شوې، چې د مازیګر کتاب پلورنځي له لوري د زر ټوکو په تېراژ چاپ شوی دی. په دې اثر کې د کره کتنې د نویو اصولو او معیارونو له مخې په ادبي فنونو، استعارې، تخیل او تخلیق باندې بحثونه شوي دي.
- "ښځه په صدف کې مرغلره": دا د شاعرې او لیکوالې جمیلې مجاهد د شعرونو ټولګه ده، چې ۷۳ مخونه لري او د پښتو شعرونو تر څنګ د هغو انګلیسي ژباړه هم په کې راغلې ده.

This document was created with Win2PDF available at http://www.daneprairie.com.
The unregistered version of Win2PDF is for evaluation or non-commercial use only.